جمهوری اسلامی افغانستان

وزارت معادن و پترولیم

ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# د نورستان د کاني ظواهرو




تاریخ: ۱۳۹۸/۶/۲۱

## د نورستان د کاني ظواهرو په اړه لا ډیر پوه شئ!

نورستان ولایت د هیواد له ختیځو ولایاتو له جملې څخه دی چې لوړوالی یې د سمندر له سطحې څخه (۱۱۰۰) مترو ته رسیږي. دغه ولایت د شمال لطرفه د هندوکش، بدخشان او پنجشیر، د ختیځ لطرفه د پاکستان چترال او د کنړ وادی، د جنوب او جنوب ختیځ لطرفه د کنړ او لغمان او لویدیځ له پلوه د پنجشیر او لغمان ولایاتونو سره ګډې پولې لري

دغه ولایت چې شاوخوا (۹۲۶۶) کیلومتر مربع مساحت لري، او نفوس یې هم په کال ۱۳۹۷ کې د نفوسو د ملي احصاییې د سرشمیرنې د معلوماتو پر بنسټ (۱۵۸۲۱۱) تنو ته رسیږي.

د افغانستان د جیولوژی سروې د تر سره کړو څیړنو نه معلومیږي چې دغه ولایت د قیمتي ډبرو او د نادره عناصرو په لرلو سره خوراه ډیر ارزښت لري. د دې ولایت کانونو او کاني ظواهر په لاندې ډول دي:

١. د پسګوشته– لیتیم
٢. د جامنک – نادره عناصر
٣. د پسګوشته - پائین عناصر نادره
٤. د درومګل – لیتیم
٥. د سمګل – قیمتي ډبرې
٦. د پشکی – لیتیم
٧. د پاریګل – قیمتي ډبرې او کاني ظواهر
٨. د کانتیوا– قیمتي ډبرې(کونسیت) او کاني ظواهر
٩. د پارون – نادره عناصر، قیمتي ډبرې او نادره عناصر
١٠. د پیروک – قیمتي ډبرې او کاني ظواهر

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې لینک کلیک و کړئ!

#د نورستان ظواهر#دافغانستان_جیولوژی سروې# کانونو_او_پټرولیم_وزارت#MoMP


<u>سرچینې:</u>

١. د محلی اورګانونو مستقله اداره، د فاریاب پیژندنه (https://idlg.gov.af/faryab/)
٢. د فارب د کانی ظواهرو لیست د افغانستان د جیولوژی سروې د کانونو او پټرولیم وزارت
٣. د احصاییې ملی اداره، نفوس (https://www.nsia.gov.af:۸۰۸۰/wp-content/uploads/۲۰۱۹/۰۶/Final-Population-۱۳۹۷۱.pdf)